په ولاړه لمونځ وکړه، که دې نشو کولای نو په ناسته يې وکړه، او که دې نشو کولای نو په څنګ يې وکړه

له عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما بواسير درلودل، نو له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې د لمانځه په اړه پوښتنه وکړه، نو ويې ويېل: "په ولاړه لمونځ وکړه، که دې نشو کولای نو په ناسته يې وکړه، او که دې نشو کولای نو په څنګ يې وکړه".

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګنده کړه چې په لمانځه کې اصل ودرېدل دي، مګر دا چې ودرېدلی نشي نو بيا به په ناسته لمونځ کوي، او که په ناسته يې نشو کولای نو کولی شي چې په څنګ لمونځ وکړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10951